فکر یې وکړ هلك خو شته او ګوري چه یواځې یې . سپه به داوي چه هغه پاتې چنګك
مزي هم پرې کړي تیاره که نه تیاره مزي پرې کړه او د هاورو ذخیري پورې یې وتړه .
نو یې مزي پرې کړ او د ذخیري پورې یې وتاړه په تیاري کې کار کول ګران و
او یو واري کب ډده دا وږو مري نه داسې ټکان ور کړ چه روړ سړي پر مخې
ولوید او زیږمه یې زخمي شوه . ورو یې په باړ خو لږه لار وکړه خو پخوا
تر دې چه زړي ته ورسېږي په لار کې ودچه شوه .

بېرته لېند یې ته راغی او د پړي ته یې تکیه وکړه . اوږه یې وښوره وله چه مزي
د جوال په بال ځای راشي . بیایي نو په ډېره ښا ملرنه د مزي نه د کب زور وازمېویه
لاس یې دما کو د تلو خواو تا کلمه .

فکر یې وکړه پو هېږم چه ولې یې ټکان را کړ ښایي چه سیم یې په شا ولیدلي وي .
د ده شا به لکه زما ډېر دومره نه خوږ یږي فکر یې وکړ که کب ډېر لوی هم وي
تر قیامته خو ما کود ځان پسې نشي راښکلی .

اوس نو ډېره ډېره لرم هر څو مره نارچه شوایږي ور کولای یې شم .

ویې وویل «که تر هغه نه درسره یم چه مړ شم»
فکر یې وکړ دی به هم تر مرګه را سره وي روږ سړی د سهار د رڼا په تمه ناست و.
تر رڼا پخوا هوا ډېره سړه وه او زاړه سړي ځان ور هم نږدې کړ. فکر یې
وکړ تر هغه چه دی تیار وي زه به ور سره یم. د سپېدو د چاودو سره سم یې مزي
وایه چه په اوبو کښې شوتلی و. ماکو په کرار کرار پورته کاوه او د لمر له پنځه
پلوشې د زاړه سړي په څېره او ږیره ولګېدې.
زاړه سړي وویل «ماکو د شمال خوا ته ځي. پچپله جریان به د خلیج خوا ته
بیولو. کاشکې کب د جریان سره مل شي. داسې ښيي چه ستړی شوی دی. لمر
نور هم جګ شو خو کب په همغه طرف روان و. زوړ سړی پوه شو چه لا نه دی
ستړی شوی. نو اخیستی یوه نښه وه. د مزي له کږوالي ښکاریده چه کب اوس که
پخوا د ورو په ژوري کښې نه دی. زاړه سړي وویل که خدای ور سره مل شي
چه پاس خیژ کړي. نه پرېږدم چه مزي ور ته لرم.»
فکر یې وکړ چه مزي کش کړم چه چینګک یې خوله ژوبله کړي او حیز ته
اړ شي. اوس رڼا ده. پرېږده چه پاس را ونیژي او د ځان سبزي له هوا ډک کړي
بیا نو په اوبو کښې ځان ډوبولی شي. مزي یې کش کړ خو له همغه اوله شخ و او دی
نو هیڅ چه نور نو تر دی زیات نه شخیږي.
فکر یې وکړ باید مزي ته تکان ور نه کړم. په هر تکان چینګک د کب خوله
ځیري او چه کب خیژ وهي نو ویرېږم چه چینګک به یې له خولې ووځي.
په هر صورت اوس د رڼا سره هیاتکړه شوم.
په مزي پوري د لوخوبوه زیره نلاه ښتیوه خو زاړه سړي بې پرته کړو ته هغه
وسکره ځکه چه مزي ور ښانه دي دروند و. داهماغه لوخی وی چه په شپې کی بې لګه
د لوړ چینجی دامی رڼا کوله.
ویې وویل «کب په ما ډېر ګران یې خو د نن ورځې تر پایه دې وژنم»
فکر یې وکړ د وژلو نیت خو دې لرم.

دشمال لهخوا یوه‌وړه چوغکه دماکو خوانه راغله. داو بوبه سر قیټه الو تله .

زوړ سړی له ورایه ورباندی پوهیده چه سه ړي ده .

چوغکه دماکو په دیوال کښیناسته . بیا یې په جګه‌شوه اوږده لمسره یې دوره وخوړه او په مزی کښیناسته .

زاړه سړی پوښتنه وکړه «چوغکی څوکلمه یې؟ دادی لومړنی سفردی ؟»

چوغکی ورته کړل . دومره ستړی وه چه کورمزی ته یې هم نه کړل . په مزی یې سوکاری تاو کړی وی او وړاندی ورو ورو زنګیده.

زاړه سړی وویل «چوغکی مزی کلك دی . ډیر کلك دی ښه ګا شپه خو به باد ونښی کیږه شوی نه یې چه دومره ستړی یې . اخر به څه ګه شي ؟»

فکری وکړ اخر به یې بازونه خوری . هغه بازونه یې خوری چه دهغه وی د ښکار دپاره سیند ته راوځی . خو چوغکی ته یې د بازی هیڅ ونه ویل بوحو دده په ژبه نه پوهیده او ویل به یې لږ دی داپه څپله بازونه وپیژنی .

زاړه سړی وویل «ښه ستومانی وباسه وړی چوغکی. بیا ولکه د نورو مارغانو او کباو او خاکو پشان خپل سر او شت پسی څه »

شپی یی ملاپوره شخه شوی وه او غږیدلی زړه ته یې داوور کاوه. ویی ویل «چوغکی که ما سره پاتی کیږی پاتی شه . افسوس چه زه داوه کیدیم که ته بادوان به می تړلی و او دی نری شمال سره به می ساحل ته رسولی وې . خوزه دلته بند یم »

په همدی وخت کی کب مزی ته یو کلك تکان ورکړ چه زوړ سړی یې په لیندی وغورځاوه . که تاریی نه وی ورکړی او ځان یې لیندی نه وای اړم کړی سیند ته به لویدلی و .

دمزی د تکان سره چوغکه هم الوتی وه خو د زاړه سړی ورته پام شوی نه و .

ښی لاس یې په مزی تیر کړ زخمی شوی و .

په جګه غږ یې وویل «له دی نه ښکار یږی چه کوم شی ژوبل کړی دی .»

پیرته یې کش کړ چه وګوری په کب یې زور رسیږی که نه خو چه مزی ښه شخ شو دی پوه شو چه نه کیږی .

لاس ته یې وویل: «صبر وکړه لاسه د تا دپاره یې خورم.»

فکر یې وکړ کاشکې ګوز داو بوکټ ته مې هم غوښه ور کولی شوای.

دې هم زما ورور دی. څو بایډ ځان ورته تکړه کړم او دې ووژنم. د غوښې ټرانګې یې دوه ځایه کړې.

ملایې سمه کړه او لاس یې په پرتاګه پاک کړ.

وې ویل: «لاسه اوس نو مزې خوشې کړه. په شپې لاس به یې و نیسم ترهغې چه ته خپله سپیتانه پرېږدې.» پښه یې په هغه مزې کېښوده چه په کېڼ لاس یې نیولی وه او شاته یې تکیه وکړه.

وې ویل: «خدای مې دې مل شي چه د لاس زخم مې د کار وو نه پاسی. نه پوهېږم چه کټ به څه را سره کوی.»

فکر یې وکړ اوس څوغلی دې او خپل پلان په مخ بیایې. دا پلان به یې څه وی؟ زما پلان څه دې؟ زه به دا خپل د هغه په پلان رابر کړم ځکه چه دې تر ما لوی دې که دې خیز وهی زه به یې مړ کړم او که دې ترا خره نه را وځی نو زه به هم ترا خره ور سره یم.

زخمي لاس یې په پرتاګه و موږه او د ګوتو ټوټه یې وایستل. خو ګوتی یې شخې وې او لاس یې نه خلاصېده. فکر یې وکړ چیر دې دا مر سره به یې بخویلی شي. یا چه تو ما په سس کېږي او به شي ګوږ یې به ځان پرا نیزی. که چېرته مې پخوا تر هغې په کار شو په زوریې هم پرانېستی شم څو اوس مې دومره کړنې لاس ته حاجت نشته پرېږده چه پخپله خوښه خلاص شي او پخپله خوښه سره وړشي. بېګا یې چه مزی صافول ډیر مې وځوراوه درسره شپه مې مزی ور باندې صافول او یو لا سره مې غوټه کول.

شاوخوا سیند ته یې سترګې وغړولې او لیده یې چه یخې یوازې دی. خو ګوزه یې په اوبو کېږي رنګینه رڼا لیدله او مزي یې لیده چه غلی او ښوري په اوبو ښوتیږي. موسمي بادونه لګېدل او وریځې یې کله خور ولی او کله یې را غونډولې.

چاره ی به پرتاگه ومو زله . دگیر دهه و گوتنه یی له لکی ونیوله اودما کو
له شنه ی ی اوبو ته واچوله .

وبی ویل «گمان نه کوم چه بوه تر انگه غونه ه به خولی کری شم » چاره یی
وایسته او یوه یی به سورسمه نیمه کره . به کینی اوزی ی دمنزی درو نه والی بروت و
او کین لاس یی دخپری به مینځ کی شیری واوبه و ینولی نه لاس ی به منزی پوری نښته.
خپل لاس ته یی و کیل « داخنگه لاس دی ! » نو که داسی وی نو هم شیر نه شه.
خدای د یو کری چه زما دخوای به شان لوی شی .

گوز یی نوروا و نو کښی منزی ته کیل ، فکر یی کاوه ، دلاس گنا ه نه ده .
دکسره دی ډیر وخت تیر شو او اوس هم لا ورسره وهلی شی نورنو څه غواړی .
خوراك كوه .

یوه ټو ته یی واخیسته او به خولی ی کره . ورو ورو یی شخوند ور باندی واهه .
ښه خوند یی و .

څا ننه ی وو ، ل : ښه یی ژدو یه او ټو له شیره یی وروه چه لبزه مالگه یادلیه و شربت
ور سره وای نه ښه خو ند به ی کړی و .
له خپل شیری لاسه ی بوښتنه و کره « لاسه څه حال اری ؟ لبز نور به هم د تا لبا ره
وخورم . »

د تړ انگی بله ټو ته ی به خوله کره . ښه یی وژدو بله اوژدو ینه یی تو کره .
« لاسه څنگه چل دی ؟ او که لادوخته دی »
بله تړ انگه یی به خو له کره او و یی ژدو بله .
فکر یی و کړ عجیبه غوښن کب دی . ښه شو چه دی به ځای می د الفین و نه نیو . د الفین
غوښه تر ټو ل حو ز ه وی حود غو ښی شیره زیا ته ده . له خوند ورشی نه دا ښه دی
چه سری شیره دارشی و خوری ، کاشکی می لبزه الگه ارلی . خدای خبر چه لمر به
داو ری تړ ا نگی وحی کړی که نه یی خوسا کړی . راځه حه ټول همدا اوس وخورم .
که وزی یم که نه بم ټوله به وخورم ، ځان به تکړه کړم .

لاسو ژون تېر ته په اوښو شوو ت. زاړه سړي يې، لکوه ولیده چه لکه دلاره دمه
په اوښو شو تله.

وېي ويل: زما ترما ګو دوه فوته اوږد دی.. مزي په تندي خو په يوه قرار
په اوښو کې روان و او ښکاريده چه کم وار خطا نه دی. زاړه سړي په دوا پړ
لاسو مزي هغو مره شخ نیو لی وچه شکېدو ته نژدې و پوهیده چه په کم زور
وانه چوي قول مري به دځان سره یوسي او ونه يې شلوی

فکر یې وکړ کب ډېر لوی دی او باید سرا ور کړم پرې يې نږدم چه پخپل
زور پوه شي او دی ته يې هم باید پرېنږدم چه په دې پوه شي چه که یو واري ځان
راته اړم کړي څه چاري به رانا مه وکړي. که زه ده په ځای وای نو نه مې
په درست طاقت مري تر هغې کشکو ده چه شلو لی مې وای. خو شکر دی چه
کبان دسپیادمانو قدر هو سپیار نه دی که څه هم دوی تر سپیاد مانو اصیل او قوي دی.

زاړه سړي ډېر کبان لید لي و ډېر يې داسې لیدلي و چه تر زرو پونډو دراڼه وو
او دوه دغسې کبان يې نو لي هم و خو هیڅکله یوا ځی نه و او س چه یوا ځی او له
سترګو پنا و د داسې کب سره يې سرشوی ی و چه په درست عمر يې نه لیدلی و
او نه يې په درست عمر دداسې لوی کب قصه اوریدلې وه. د کین لاس
ګوتې يې داسې سره ستې او شخې وې لکه د کجير مښوکي چه یو په بل کلکې شي.

وکر يې کا وه اخر به ځان خلاص کړي او دسې لاس سره به مې مل شي. درې
شیان یو بل سره ورو نه دی. کب او زما دوه لاسونه. باید چه خلاص شي که
خلاص نشي ور ته لوی حجالت دی

کب بیا ورو شوی و او لکه پخوا داسې روان و. زاړه سړي فکر وکړ عجیبه ده
چه پاس را وخوت دا ولې؟ داسې يې خيز کړه لکه ماته چه ځان ښيي چه ګو اکې
داسې لوی یم. اوس یې لدي هم پوهیږم کاشکې مې یو وار ور ښو دلی شوای چه
زه څرنګه سړي یم خو بیا نه بې زما شخ لاس لید لی و بر پېږ ده چه د قوي سړي
خیال را باندي وکړي او تر هغه به زه هم ځان ورته تکړه کړم. فکر يې وکړ
کا شکې زه کب وای.

ده سره هرشي شته او ماسره يوائې بوهه اوارا ده ده په کرا ره کښيناست او
اودړي‌ته بی تکيه و کړه کښ په شيبو لار وهله اوورسره‌ما کـ وبه‌تورو ا و کښې
روا نو دشر مې شمال سره په سيند کښې لبري شپې پيدا شوي او دغرمې سر ه سم
دزا پره سرې کيښ لاس وغوړېده

وبی ويل « کيه بدزيری‌در کوم غرمه‌ده» داوزې مزی‌دجوال‌الحای ته وښوياوه.
زوړسړی اوس‌دمه و ، خولبز رپلی‌شا نته همو . حوده حپلز پلتوب په‌مخ مه‌راوړ:
وبی ويل « زه‌په دي عقده مه‌لرم خو ددی کښ دېو لود پاره مه‌لس واری په مسيح
اولس‌واری‌مه په مريمې درود ووايم او قول دی‌چه را کښ‌ويسم د سپېڅلی کوړر
زيارت ته مه هم‌لاړ شم . هو ، دا قول دی .

بی له‌فکره‌ی‌په‌درود ويلو پيل و کړ . کله مه دومره‌ستړی شو چه درود‌مه‌يی هيرشو
او بيا مه‌يی او ژر ژر ويل چه پحپله يوايت دیل پسی وربه ياد شي . فکر يی و کړ
دمريم در ود دمسيح تردروده آسان دی .

« درود دې وی پرتاای مريمې دحدای‌تول ر کښ دي درسره مل وی د ښځو
په‌ميښځ کی‌ته‌مبارک که ئې‌اوستا دباغ ميوه چه مسيح دی مبارك دی سپېڅلی‌مريمې
دخدای موری زموبر گنا هګاراو په حق کښی دغه اوس دمر ک‌په‌وخت کښی
دعاو کړه . « وروسته بی ريا مه کړه» سپېڅلی پيغلی ددې کښ دمر ګ دپا ره هم
دعا و کړ ه که څه هم‌ږېر ګلا لی‌دی » چه‌بی دعا حلاصه کړه اوا را ده بی دوی
شوه دليمه‌ی په دړی‌ی تکيه و کړه او په غير ارادي ډول ی د کيڼ لاس د ګوتو
په پسنو‌لو پيل‌و کړ .

اوس هم اکه پحوا ز پلی و

. که څه هم د اوبو له سره بوه دی ر ږه جګيده حولمر اوس تو دو .

وبی ويل « را څه چه دهابل مزی د چمګك شومه تاره کړم که کب عو ښتل
چه مله شپه هم په ماتيره کړی‌و‌بيا‌مه‌حوراك ته اړشم . دبوتل او‌مه هم‌مح‌په‌خلاصی
دی‌او ګمان مه کوم چه چپ له ډا لفيه مالشی لاس‌ته‌راشی »

دو الفیں هم چه تازه و خورم تندهمی بر ما تیبزی . کاشکی نن شپه کوم
الوتونکی کس ما کرته را تو پ کری . افسوس چه ما سره ر نیا نشته
دده راته پامشوی وای . الوتنکی کب اوم نبه خور کیبزی او تو تی کو لو ته یی
همحاجت نشته . باید خیال تول رور وسپوم . زه نه پوهیدم چه دومره لوی دی
حو د دی دومره لوی او عظمت سره بی وژنم ..

وکری بی ز کړ داند کار دی خوورته وه نبیم چه د اسمان له لاسه خه شیان بوره دی
او اسمان خو ورته ر عمو ن اسري .

ویی ویل . هلك ته می و یل چه زه یو عجیبه زوړ سړی یم او اوس یې
درستیوولیر وحسدی ..

رر واری بی هلك نه تا نه کړی وه حوهه خوشی و اوس بی بیا تا نتو له .
هرحال نوی وارو او چه دی نه وربا ندی لګیاو نو دتیر وار په نرحی کی نه بی
هیڅ ډکر نه کاوه .

وکری یې ز کړ کاشکی ره او کب دوا ړه و یده شو او خمری یې په حوب کښی
وګورو . نه پوهیږم چه ولی په دی دومره نورو زوو کی خمری تر تولو مهم دی .
خا نه بی وول . دره سړ په ډکر مه کوه . کراردړی ته کیه و کړه او هیڅ شی
مه در په یاد وه . کور په او و کی کب په کوم کار لګیا دی نو ته هر شو مره چه
کولی شی ابر نوحت شه ..

تیرما سپینین و ازما کو لا په شیو شیو اوبو ه قرار روان و . حواوس شرقی
شمال د کب په مری لبر ور رور هم اچولی و او رو ړ سړ ی په کرا ر ه د سیند
د بر مو لو نو دپاسه روان و . ږ ږو بی دمزی لاندی سپك او بری نری سوی کاوه .
دتیرما سمنین په یوه وحت کی مزی ناځاپه په اوچتیدو پیل و کړ حو کب داو نو
لاندی لبر را اوچت شو اوس . لمر دراړه سړی په کیب مت او ملا او او زی
بیم لګیده . پوه شو چه کب دشمال اوید یخی خواته سم شوی و . اوس چه بی کب
یو ازی لیدلی و دځانه سره یی دلمنا په حال کی مجسم کولی شو . چهیا ر نکه

نه‌یې به دوا ړو اوخو کښې لکه وزرو نه‌وی او نیمی لکه‌یې تنوری او نه شیرلی.
فکر یې وکړ نو هغه‌یزم چه په دې دومره ژورو او نو کې‌یې ستر ګی څو مره لار
ګوری . دده سره کښې خو عقل دې داس ستر ګې چه د دده ترستر ګو
وړې دی په‌تیاره کې لید کولی‌شي . ماهم یو وخت په‌تیاری کې سه لید لی شو .
داسې نه‌چه نیغی نه رڼا نه‌وه‌خولکه پیشو چه په تیاری کښې لید کوی .

دلمر تاو او دده ګوتو پستولوی اوس کیږی لاس نیغی پراینستی و او اوس‌یې
دمزی پیر رور ور ناندې اچولی شو اوزی ته یې رب ور کړ چه مری له حوز
ځا یه څه قدری چپ شي

ویې ویل « کله عجیبه شي یې چه لاسونړی نه بی »

خپل ځان یې د پېر ستړی ستوماته لیده او د ملی شپی را تللو نه بی پام شو
او زیاریې وایست چه پام په نوروشیانو غلط کړي. اوی قیمو نه یې په‌یاد راوستل
او پوهیده چه دنیو یارك دیانکی او دپتړایت دپراسکانو ترمینځ لوبه روا نه ده .

فکر یې وکر دادویمه ورځ ده چه دلوبی نه خبر نه یم ، ستر ګیما ګو نانډې
حوباید باورولرم ځکه چه دی هره لو به سرته رسوی ، که څه هم د پو نډی په
هډو کو کښې خنډ دی ، له ځا نه یې پو ښتنه وکړه دهډو کو خنډڅه‌شی وی ؟
مونږ کښ نیوونکی نه لرو ، ایا دو مره درد نه کوی لکه د سړی په پوندی
کښې چه دجر ګک خنډ نو ځی ؟ ره خو فکر نه کوم چه دپوندی خنډ یا د یوی
ستر ګی یادد واړو ستر ګو ناپلل و رعملی شم او بیا هم لکه جر ګک خپل خنګ ته
لا دوا م ور کړم انسان دلویو ځما ورو او مار غانو تر څنګ وړ و کی دی ،
کا شکی ره دهغه ژوی غو ندی وای چه کور د او بو لاندې دی ، خو د شارك
تر راتلکه پخوا

ویې ویل « که شارك را مراشي خدای دې په ما او په هغه کښ دواړو
ور حمیږ ی . »

فکر یې وکړ ایا ستر ګیما ګو نه دیوه کب سره دو مر ه موده تیره کړی‌وای

لکه دا زه یی چه تیر وم؟ زه باور لرم چه ده به تردی لا ډیره موده تیره کړی وه ځکه چه ترما ځلمی او تکړه دی ، پلار یی هم کب نیوونکی و ، خو نه پوهیږم چه د هغو کی جنګه به یی زښت ډیر ژوبلوی؟ که څنګه؟ وئی ویل زه نه شم پوهیدلی ځکه چه هیڅکله می داسی جنګه په پوهندی نه دی خپلی.

دلمر پر یواته سره سم ور په یاد شو چه باید ځان ته ډاډ ورکړی ، په کارانلا سکا کسی چه ده دسپین فونیکوس تور پوستی سره پنجه ور کړی وه ، دا تور پوستی د ملدر تر ټولو قوی سړی و ، یوه ورځ او یوه شپه یی څنګل د میز په سر په هغی لیکی اینی وه چه په سپین تباشیر کښل شوی وه ، لاسونه یی همداسی نیغ نیولی و او منګولی سره کلکی کړی وی ، هر یوه زیار ایست چه د بل لاس په میز څملوی ډیرو خلکو ور باندی شرطونه تړلی و او خلک د کوټی په رڼا کښی ودل او ستل او راپه سری د تور پوستی مټ او مخ ته کتل ، په هر و څلورو ساعتو کی ریفری بدلیده او هامل ریفری به خوب کاوه ، د ده او تور پوستی د نوکانو له لاندی وینی روانی وی او دوی یو د بل مټ او سترګو ته کتل شرط والا خلک وتل ننوتل او په څوکو چوکیو دیوال ته نژدی ناست وو ، ټولو ددوی ننداره کوله ، دیوالونه د لرګی و او اسمانی رنګ ور کړ شوی و ، تیلی ډیوو خپل سیوری ور باندی غورځول ، د تور پوستی سیوری ډیر ستر و او چه شمال به څراغ لګیده دده سیوری ورسره په دیوال خوزیدل

درسته شپه به نری کله دیوه او کله د بل په برخه ښکاریده ، خلکو تور پوستی ته شیشه په شیشه شراب ور کول او ده ته یی دده سګرټ لګول ، کوم وخت چه تور پوستی شراب وښل ډیر زور به یی واچاوه او یوواری یی نژدی د ده لاس څملولی و ، دی هغه وخت روږد به و ، ملکه دشامپیون ښتیاګو به نامه یادیده تور پوستی یی لاس دری انچه کوږ کړ خو ده بیرته نیغ ودراوه او بس له دی نو پوه شو چه تور پوستی یی ګیر کړی دی. توربوستی یو او ښه رنګ ګلالی اتل و .

دسپهارد رڼا سره سم چه شرط والاؤ وغوښتل لو به مسا وی اعلان کړی او ربیغړی
همنان زاړه سری خپل قول روروړته ابرم کړاو دتور پوستی لاس بی کور کړه . نور بی
ام کوز کړ ترڅو چه بی په مینه وغزاوه . لو به دیکښنی په سپهار ښتی وه او ددوښنبی
هسپهار بای ته ورسیده . دیرو شرط والاؤ ځکه دلوبی بس کول غوښتل چه د و شنبه
د کارور ځ وه او دوی مجبور وو چه دوری دبار ولو دیاره ښه راویاد هواړا دسکرو
شرکت ته لاړ شی . خو ابره سری لو به د کار له پیله بحواخلاصه کړه . پس له دی
ورځی دیره موده حلکوده ته اتل وبل . دهمدی کال په پسرلی کی بی بیاد تور پوستی
سره پنځی ور کړی . داو اری دومره دیرشرطونه وواو په اسانه بی لو به و ګټله
ځکه چه په هماغه اول وار بی دتور پوستی زړه غورځولی و .
وروسته تر هغی بی بوځو بور میچونه هم وکړل خو بوربی بس کړه . بو ه شوچه
که دی وغواړی د هرسړی لاس ځملولی شی خو اخر نه بی سی لاس له کبه یو لو پاتی شی .
څوو اری بی په کبړ لاس هم دامتحان دپاره میچونه وکړل خو دده کبړ
لاس همیشه نامردی کوله او همه شی چه ده ورته عوښتل نه بی کول او دده هم ورباندی
زړه نه ښه کاوه .
فکر بی وکړ لمر می لاس ښه پوست کړی دی او که دښپی دیر بیخ ښی ګوندی
بیاښخ شی . نه پوهیږم چه ښن شپه نه څه پینځی راو شی .
بوه الوتکه چه مخ په میامی روانه وه ددهله سره تیره شوه او راړه سړی بی
سیوری ولید چه دالوتو تکو کمانو ډله بی وترو له .
ځان سره بی وو بل چه که دومره دیر الوتوتکی کمان شته نوضرور به ډالفین
هم ورسره وی . دا وزی مزی ته بی و کتل او ابر بی را کش کړ چه په کم بی زور
رسیږی که نه خو هیڅ نه کیده ه مزی دومره ښخ وچه شلیو ته نږدی و دا و نو
څاڅکی تری څڅید ل
ماکو ورو ورو روان واوده تر هغه دالوتکی بسی کتل چه بی نورله ستر ګو
پنڅاه شو ه .

فکریی وکړ دالوتکی سپرلی به عجب خوند لری خدار ده چه له الو تکی نه
سیند څنګه ښکاري که الوتکه ډیره جګه نه وي نو به سیند کښی کبان لیدی شي.
ډیر می شوق کیږي چه په یوې الوتکی کښی دوه سوه وازی ځنګ ورووړو
د سیند په سر وګرځم او له پاسه کور په او بو کښی کبان وګورم.
د کښت بیوونکو په ډیری کښی څه زه دنا دوان دستی به سرولاړ وم له هماغو مره ه
جګک ځایه می هم په او بو کښی ډیر شیان لیدلی شو

ډالفین له پاسه ډیر ښیان ښکاري اوډاړخو پټې او شنه حالونه یې راته لیدل
کیږي او تو له ډله سړي لیدی سي داولی داسی ده چه بول ګړیدی کبان په اړخو
کښی پټې اوطلا یي رنګ لری خوچه وري وي او دچمګکډنشو می بسی راشی
بوداړ خو امپ کښی یی چمیالیکی پیداشي. څه دانه دوارښه وي او که د ګړیدی
ښګک به پیدا کیږي.

لږ څواتر دي چه تیاره سي کوم وحب چه ما کورد هغو بونو له میخته تمر یده چه
د سیند سره کوروپاس ناویدل اولکه میان چهد ریږ ملڅلا لدی یو دال سره میبه
کوي یو به نال او سپتال راوسپاندراړه سړي حمال هاپل لیهمري ته پام شو چه ډالفین به
کښی ګیږو.

ډالفین له او بو حمر کړ اودراړه سړي وربه پام شو ماړخو ه بې دلمر په زروستیو
بلوشو کی لکه سوچه زر رابه و ځلیدل. له وا حطابیه یی بیا بیا حیر وبه وهاک.
راړه سړي حپل عتمری په ښی لاس وبیواو ځان یی ورو ځکاوه په کیپ لاس
د اډالفین مري کښ کړ او هرو اریی په را ښکلي مري کیمه پښه کښبود له او بوري
راکښنکوده. چه دالفون ما کوته ږ دي شوبوي تو یو ته روږ ور کړ. راړه سړي
دړي نه تکیه وکړه اوتو رنحون طلا یی کښ یی چه چمیا حالونه یی لږ ل ما کو ته
وخیژاوه. د ډالفین داړي په حنګک حسي وي اوتمی اولکیه یی دما کو به غولی
ترهغه تریکی وهلی څه زاړه سړي په کوتك په طلا یی سر ووا هه او پس له څو شیبو یی
ريبز دیدا غلي شو ه.

له چنګکه یې خلاص کړه . بل سار د ئن یې په چنګک کړ او مزي یې سینده
وغوړځاوه . بیا نو بیرته خپل ځای ته لاړ . کیڼ لاس یې وپینځه او په پرتاګه یې
وموښه . وروسته یې زړی له ښي لاسه کیڼ ته بدل کړ او ښي لاس یې سینه کښې
بري مینځه . او بیا یې وویل چه په سینه کښې ډوب شو او خپل غټ مزي ته یې وکتل .
وایې ویل : « د کب تنګ لاو روښوی ته دی . » خو چه دا وو جریان یې په لاس
وکوت و یې دکب په بون کښې بیکاره نو ډېر و ایده .
وبیا یې وویل : « دواړه چپې به هم په ماکو پوري وتړم ، چه په شپې کې یې تنګ وروکړې
کب حو د شپې دپاره هم ور ته تیاریم . » دی اوزده م ورته تیاریم »
فکر یې وکړ ښه به داوي چه الفین لږ روسته خو ښیرم چه ونه نې یې هغو ښي کړي
پاتی شي . دا مي چه وکړه نو به چپې هم په ماکو پوری وتړم اوس به ښه داوي
چه کب لږ کر اروسا تم او د لمر پریواته په وخت کښې به ورو خوروم . لمر پریواته
د کبانو دپاره ډېر سخت وخت وي .
لاس یې په هوا ته ونیول چه وچ شي بیا یې زړی په لاس کښې ونیول او ځان یې
په کرار کړاو ډېری ته یې داسې تکیه وکړه چه د مزي ډېر زور په ډېری راغی .
اوس یې چل راځي فکر یې وکړ خو په یاد لره چه کب له هغه وخته چه په چنګک
کښې ګیر شوی تر اوسه وږی دی . اوی کب دی او خوراک ورته په کار دی .
ما یو کب درست وخوړ اوس ما سره به الفین هم دی او هغه وخت چه دا الفین پاک وم لږ به
ئې وخورم . د الفین خوراک تر تو ماسخن دی خو هیڅ شي به ډېر کښې اسانه دی .
په جنګ غیږ یې وویل : « کمه ځه حال دې دی . زه حو ټکړه یم او ډیوی شپې او ورځې
دپاره خریدار خوراک لرم . در کا زه مادر کا ز . . »
خو په رښتیا ټکړه نه وه ځکه چه داوږ او د مزي لاله ی درد اوس له درده تیر او
داسې یو رقم کرختي په کښې وه چه دی تری ویریده .
فکر یې وکړ خو ما تر دی لا بدې ورځې تیرې کړي دي . اوس خو مې یواځې ښي لاس

اوس تیاره وه ځکه چه د سپتامبر په میاشت کښې د لمر پریوتو سره سم تیاره شی.
زاړه سړی د ماکو چینجن لرګی ته تکیه وکړه او ځان یې په کلا کرار کړه. د شپې
ستورو په ځلیدو پیل وکړ. ده د ستورو نوم نه وزده خو پوهیده چه ژر به ټول
وحشي او خپل د لرې وطن اشنایان په نما مومی.

ویل یې "کب هم زما اشنا دی. داسی کب می په خپل ټول عمر کښې نه
لیدلی او نه می اوریدلی دی خو باید مړ یې کړم. رښتیا ښه دی چه موږ د ستورو
وژلو ته هڅه نه کړو." ته فکر کوه که هره ورځ یو سړی د سپوږمۍ د مړ کولو سعی
پیل وکړي خو سپوږمۍ تری تښتیدی شی خو فرض کړه چه یو سړی د لمر د وژلو
تکل وکړي فکر یې وکړ موږ له ډیره نیک چانسه پیدا شوی یو.
وروسته نو یاد کب د پاره خپه شو چه هیڅ خوراک یې نه و کړی خو په خپل کار کی یې
هم د کب د وژلو نیت له زړه و نه ایست.

فکر یې وکړ څومره خلک به ماړه کړي. خو ایا دا خلک به دې ارزي چه دا کب
وخوري. ښکاره ده چه نه ارزي. که سړی د دې کب اوږې او کړنو ته ځیر شي نو
پوهیږي چه هیڅوک یې د خوړو او ارزښت نه لري.
فکر یې وکړ زه په دې شیانو نه پوهیږم خو ډیر شکر دی چه موږ د لمر سپوږمۍ او
ستورو وژلو ته هڅه نه کوو. همدا بس دی چه د سیند د وروڼو په وژلو ژوند کوو.
فکر یې وکړ اوس باید د ماکو چپو ته فکر وساتم. هر څه چه کیږي
باید د الفی ځای کړم چه خراب نشی او ځان د تکړه ساتلو د پاره باید لږ
تری همدا اوس وخورم. خو اوس حاضر باید نوه شپه دمه وکړم او داسی وګڼم
چه کب ښخی ساته لری او کرار پروت دی او په همدې حال کښی د کب کړنو ته پام
وساتم چه په تګ کښی یې کوم بدلون راغلی دی که نه.
څنګه چې په ماکو پورې بنډول عجیب چم دی حو اوس له چه خبر تیره ده او باید دومره
کارتری واخلم چه ما وساتی. کب لا تر اوسه تکړه دی او ما په خپلو سترګو ولید چه

در د خوب نه هیڅ شی هم نه دی خوندوره دلته حیرانه ده چه کله یو هیښېږي څه
دداسې شی سره بې سرشوې چه دی بې نه غواړي . زړه سې یې اوس ښه دمه وکړه
او پرېږده چه کله کار وکړې نو همه چه ستا کار ته ضرور پیښیږي .

د دو وسا ئلو دپاره کرار شو . سه زمینه تر ناوخته نه راحمله اوږي نه یو هیڅه چه
خپل مره وخت بې دمه کړي . چند پای دمه یې هم نه وه کړې خو یو شه وه . د کله
دروندوالې یې په اوږ و پروت و خو کېنې لاس بې دماکوږې نه او رووړ اود اوږې
ډېر زور بې په دې ړ راوست .

فکر بې وکړ چه که مری می تېرلي وای خو مره نه اسانه شوی وخو بیانه ی
په وهکان شلولی و . باید دمزی زور په اوږو راوړم او هره کړې نه باید تیار
اوسم چه که کله تکان راکړی په دواړو لاسو مرې ور وغزوم .

ځانته بې وویل « تا خو تراوسه خوب نه دی کړی نیمه ورځ او یوه شپه او داده
بله شپه راغله او تا هیڅ خوب نه دی کړی . نه باید داسې چل پیدا کړې چه
که کله غلی وي ته خوب وکړې شی ځکه چه که خوب ونه کړې ماغزه به دې
کله وږه شي . »

فکر بې وکړ اوس خو می ما غړه ټکي ده دی او فکرمې روښانه دې داسې روښانه
لکه داز مو زور ونه ستوری خو سره له دی هم باید اوږ خوب وکړم . ستوری
بېلېږي . سپوږمۍ اوله هم بېلېږي او ځنی بحرونه هم ډېږي . کله چه جریان
په کښې نه وی او کرار وي خوب کوي .

په یاد لره چه خوب وکړې . ځان خوب ته اړ کړه او دمزی دپاره کوم ښه چل
جوړ کړه اوس نو ورځه ډالفین دیوسته کړه . دخوب په وخت کښې ماکوپوري
د څپو ترل خطر لري .

ځان سره بې وویل . دی خوبه می هم وخت تېرولی شو خو ډیر خطر لري . په خپل پرد
دما کولا سرته ولاړ . ډېر بې پام کاوه چه ماکو هیڅ ونه ښورېږي . فکر بې
وکړ کښته به نه خپله ټماو و ئله و مړه خو زه نه غوارم حه دې . ځان هو سا کړم .

ډالفین ته په رسیدو یې د مزي زور په کیڼ لاس چاوه او په لاس ئې چاړه له تیکي وایسته.
د رنګو سورو د غلا مده باو شو لاندې یې ډالفین راند. چاړه یې په سرور و منځوله
او دما کوله عولی یې تهر راو کیښ. بوده پښه یې ورباندې کېښوده او له بامه ئې
د. وارړو سر کوتر کونه شیږی کړ. بیایې چاړه کېښوده او په ښې لاس یې
له نسه پرحړی وایستی. په س کښی یې دوه او وړکی کبان وو. دواړه تاره واو
زاړه سړي شلك په شمك په عولی کېښودل او دنسلری کولمې یې دما کوله شنډی
سیند ته خطا کړي. بر حړي ورو ورو په اوبو کښی ډوبې شوي او
تر شای بوه سپیره رنه اینکه پرښوده. ډالفین دستغو رو پسه رنیا
کښی سپین ښکارېدو ن او تړکی تکی ښکاریده. په سر یې پښه کېښوده او
بره حو ایی د پوسته کړه. بیایې په بل اړخ واړاوه او له بلی خوا یې پوستکی و کیښاو
بیایی پوستکی له دواړو خواؤ له سره تر لکیه پری کړ.

د کب هغو نیم ئې دما کوله شنډی او بوته خطا کړه او کوزی او بو ته وکتل چه کوم کرداوی
په کښی پیدا کېږي که نه خولیه دی چه هغو کې شه شی کښی په کړل او بخپله ورو ورو
دروب شو. بیا ته وګرځیداو دواړه الوتونکی کبان یې د ډالفین د غوښی په مینځ
کښی کښېښودل او چاړه یې بیرته په تیکی و منډله او بیا و په ډېر بام ئې ځان لیندۍ ته
ورسکاوه. شا یې د ډېري د زور لاندی کړه په و دا و ډالفین یې په ښي لاس کښی نیولی و.

لیندی ته په را رسیدو یې ډالفین او دواړه الوتونکی کبان خپل شګ ته په ډېری کېښو ول.
مزی یې بیا د اوږی په ځای راووست او په کیڼ لاس یې و نیو او ډېری ته یې تکیه
و کړه. ځان یې دما کوله شنډی کوز ځوړند کړ او الوتونکی کبان یې په
اوبو کښی پری مینځل او بیا ورسره یې داو بو ګړندیتوب په لاس وارمو یه. لاس یې
د ډالفین ډیر کولو نه شر رنیا کوله. داو بو جریان زغرد و او چه ده لاس دما کوپه ډېري
پاک او له لاسه یې ځلیدونکی بخری تر و بیدل.

لګیاشم او زر روسره لږ خوب وکړم .» په سرې شپې کښتۍ بې دستور ورروناته د الفین نیږه
توقه او یو الوتونکی کب وخوړ .

وېو یل :« د الفین چه سرې پوخ وخوري عجیبه شی دی او ام بې بېخي بد خوندوی
بیا به هیڅکله په ما کو کښتۍ ی مالګي بالیدو سره ورشم » .

فکر یې وکړ که ره ساده نه وای نو به مې درسته ورځ د ماکو په دیوال د سیند
مالګینی او بهشیند لی ارسته او نه وچی شوی وای او ما الکه به یه دوا او باتی وه .
خو زه څه خمروم چه د الفین نه بیسم داخو می زړلمر پر یو تور وورو سته ګیر کړ . خو بیا هم
زمانې فکري ده . اوس می نو ژدو یلی دی او حوله می بی خوندنه ده .

خسیځ حوا اسمان به وریځو پټید ه او هغه ستوري چه ده پیژندل یو په یل پسی
ورکیدل . داسی سکار یده لکه چه ماکو د وریځو په لړ کښتې روان وی
بادهم درید لی و .

وېو یل :« دریځا ورور ځې پس نه هوا خرابه شی خو زن او سبا به ښه وی . اوس
نو زړه سره نه کلا علی دی نو ځینه وبده شه .

مزی ی په ښی لاس ټینګ ... راو ږن یې ورته تکیه کړ . ځان ی نور هم دې ته تکیه کړ .
بیا ی داوږی مزی لږ داوږو څوکی ته راو وست او کیڼ لاس یې ور باندی کیښوده .
ښی لاس می تر څو چه ورون ورته اړم وی مزی نیولی شی . که په خوب کښی مړ ی
ورنه خوشی شي نو چه د کیڼ لاس ته ئې بر زې ر ده به پری خبر شم .

په کیڼ لاس می لږه سختی را ځی دا حو عریب ګوندی به زړا بو خ دی که ره شل دقیقی یا
نیم ساعت وبده شم بیا هم دی تکړه دی . مچکی ی تکیه و کړه او د مزی نول زور یې په
ښی لاس راغی او وبده شو .

په خوب کښتی ی ځمری نه لیدل او د هغی په ځای ی دا ورد کشپا و و له لید له چه
لس میله یې سیند ټک کړی و . دا نو د کشپا نو د سوری ووم او له او بو به جګ
وا لوتل او بیرته به په او بو نول بیا ی خوب لیده چه دی په کلا له کښتی په

لاس یې حوت ورې ځکه چه ده د بالښت په ځای وربانده سر ایښی دی و روسته
یو بیابان افریقې زیږو شګلنو سواحلو ته را و ګرځېد او ځمرۍ یې ولیدل چه
ورو، ورو ساحل ته راکوزیدل او یو ځمرۍ ور پسې راغلل ده ډیرې په ژړی زړه
ایښی ده او ننداره ئې کوی ډیرې لښکرا جولۍ واو کراره ولاړه وه. دی ښندا رو ته
خوشاله و.

سپوږمۍ د ډیر وخت په آسمان کښې وه خودې ویده و او کب په سیند روان و
اوماکود کوډې کوډې وریځو له مینځه تیر شوه.

په همدې کښې ؤچه د زاړه سړی ښی وک په شړق دده په مخ ولګیده او لاس د مزی
ښوییدو د تندی له کبله وسوزید له حمل کیږي لاسه حریه واو ډیبی لاس په ټول زور یې
مزی کلک ونیوخو مزی لاسم په تندی ښوییده. په آخر کښې یې کیب لاس په ړی
برابر شواو کش یې کړ مزئی کیب لاس او وزه دواړه سور ول کیب لاس یې
ټوله زوره احسنی وه او سوی یې کاوه ښیرته بی دمزو کړې ټول کبل چه په ډم ه
چټک یا خلاصیده. په همدې وخت کښې کب پاس خیز کړل او ور سره داو یو د ښیر و
شړیهار جګ شو. کب بیا اوبو ته واړید. بیا او بیا یې له اوبو خیز کړل او ماکو
په ښندې ور پسې روان و او مړی هم په چټکۍ غزیده زاړه سړی دومره پامزی زور
اچولی و چه شکیدو ته نږدې شو د مړی له زوره دلیندې دړې ته شو و اړي کلک
ایږمشو ارمخ یې د پالفین ټوټې پورې نښتی و او ځان یې شو ښو ر روای.

مکر بی وکړ همدې ورځې ته می کلونو را ځه ګاله یې. د مزی کسات نږې
واخله. دمزی دهرې اوښتې کسات وریه واخله.

دده کب خیز نه لیده او یوا زې یې داوبو شیرل اود غور ځیدو شړیهار اوریده،
دمزی چټکتیا یې لاسونه پرې کول خودې له ځوا پوهیده چه همدا سی به شی او دومره بی
پام کاوه چه دلاس پاسنه ځایونه زول ښی او یوا ځی پرې اوززه ځایونه پرې شی.
مکر بی وکړ که هلك دلته وای دمزی کړې به یې راته لمد وله. هو که هلك دلته وای.
که هلك دلته وای.

وړې غزیده غزیده او لا پسې غزیده خو اوس هغه مره په تندیر نه ووت .

دزاړه سړي په هر او بشت مزي د کب سره جګړه وه اوس یې سر له ډېر او
دړا الفين له هغې ټوټې جګ کړ چه مخ یې ور پورې نښتی و . ویرې چه زړه یې
بد شي او کسالتګي به ور شي نو یې مخ پاك کړ او ښی لاس یې د ماکو له څنګه ې
په او بو کښې پرې مېنځه او هم هغه یې په مالګينو او بو کښې لاس و نیو او تر هغه یې
څار کاوه چه د سهار او مړینې رڼا خوره شوه .

فکر یې وکړ کب نېغ دلمر جانب خواته روان دی . ما نا داچه ستړی شوی
دی او د جریان سره ځي . زړ به د ورېو هلو ته راوګرځي . بیا به دو دوار و رښتیانیه
جګړه شرو ع شي .

وروسته یې پام شو چه لاس یې ډېر وخت په او بو کښې پاتې دی ،
له او بو یې وایست او ورته وې کتل .
و یې ویل : « دو مره خود کاره نه دی وتلی . سوی کوی خو درد هېره ته کومه
غټه خبره نه ده .

مزی یې په ډېر با مدا سی په لاس کښې ونیو چه په پړې شو و ځایو برابر نشي
او اوږه یې داسې وخو ر وله چه کیڼ لاس یې د ماکو په هاملې خوا کښې
د میخلو د پاره وز کارشي .
و یې ویل . « کیڼه لاسه تا خو هم دومره نامردي ونه کړه خو نو شیبه مې سخې ورك
کړی وي . »

فکر یې وکړ ولی د دوو تکړه لاسو سره زه پېز پیدا لی نه یم . دا به زما ګناه وي چه
کیڼ لاس مې ښه روزلی نه دی خو خدای ته ښکاره ده چه څو مره مې خواری ور پورې
کړې او څو مره چانسو نه مې ور کړی دی . شپې خو دومره بدنه و او تش یو واری ټخ
و هلی دی که بیا یې نخ ووهي پرې به یې زه دم چه مزی یې جوړ پرې کړي .

ځانته یې پام شو چه فکر یې خراب دی او باید د ډالفين غوښه وخوري نو یې ځانسره
و ویل : « خوراك چېرته کولی شم . وزی نس ښه یې نه داچه د ډالفين په خوراك

دې ژړه بد شي . بيا به له کاسګو ځان شم ساتلى ځکه چه ماو ليد چه مخ مې ور پورې نښتى و .
راغه و به يې ساتم چه وروسته مې په کار نشي خو اوس د ځان د ښکره کولو وخت نه دى .

ځانته يې و ويل : « ته خو ښه ساده يې ولې هاغه الوتونکى کب نه خورې »
دوړ کب يې تر څنګ ميښتلى او تازه پروت و . په کېڼ لاس يې جګ کړ او
خولې ته يې کړ ورو ورو يې ور ماتدي شخوند ووهه او هډوکي يې وشپېلل .

فکر يې وکړ . والفس الوتونکى کب تر هر شي ډېر ښه شيره او قوت لري .
لږ تر لږه هغه قوت چه ما ته په کار دى . اوس د خپل وس پورې د ځان چاره وکړه .
اوس دې نو خپلې دورې وهى او به جګړه پيل کوو .

د دريم ځل د پاره لمر را وخوت او ور سره کب هم په دوړ و پيل وکړ زوړ سړى
د مزي له تاويدو نه پوهيده چه کب لا ما کوګرځايږ دوره کوى په اوږو يې د مزي سپك
غوندې فارحس کاوه او په ښي لاس يې په کرار کرار مزى راښکه . د هر وار
کشکولو سره به مزى دومره شخ شو چه شليدو ته به نژدې شو او بيا به مزى لږ څه
دننه راغى . اوږه يې د مزي له لاندې خلاصه کړه او په لاس يې سو که مزى ته کش
ور کاوه په دواړو لاسو يې مزى ونيواو په ټول زور يې کش کړ . و ج زاړه لينګى
او اوږې يې د کشکولو سره ريږدېدې .

وې ويل « دوره يې ډېره پراخه نيواى خود وره وهى . »

بيا يې نو هم شو چه مزى په ځاى د رپدلى او ه راځي . په دواړو لاسو يې تر هغه
کش کړ چه له مزي پرخه پرخه او به والوتې خو مزى د کب خواته په غزيد و پيل وکړ .
زوړ سړى په ګونډو وشو او ورو ورو يې مزى پرېښود چه په تورو اوبو ننوځى .

وې ويل : « کب د خپلې دورې لېرې برخه وهى . څه مره چه مې وس رسيږى
بايد مزى هغو مره شخ و نيسم نو به يې دوره لاړا لنډه شى . ګوندې يوه ګړى
وروسته يې وګورم . »

وې ويل : « خواول يې بايد پوه کړم بيا يې مړ کړم »

خو کب هماغسې ورو ورو دوره وهله او زوړ سړى آن تر هغه وګو سترې ي او

له خولو خیشتو، خواوس یې دوري تر پخوانیا پسته‌لنډې شوې وې او له مزی داسې
ښکار یده چه کب لګیادی له ژورو او بو پاس راخیژي .

یو ه شیبه پخوا زا یه سری تور تکی خپلو سترګوته محامخ لیدل او دخولو
مالګینی او به یې پسترګو او دستر ګو دپاسه په پرې شوې ځای کښې تو یې شوې دې.
دی له تور و تکو نه ویریده . دستو مانیه په وخت کښې داتکی طبیعي شیان دي،
خو دو واړې یې ځان ضعیف شا نته ولید او سر یې ګنګس شو . دی له همدې
وویریده .

و یې و یل « په دې وخت کښې چه کب د و مره په زور و رار وان دی
له ا نصا فه لیرې ده چه مړ شم . خدا ی دې را سره مل شی چه و ر ته پاتې
شم . سل واري به ر موبیر په مقدس پلار او شل واري به په سپیڅلې مریمې درود
ووایم خو اوس یې ویلی نشم . »

فکر یې وکړ زوړ سړ یه لوړه و کړه چه بیانه یې وا یې .
په همدې وخت کښې یې په مزی کښې یو تکان ولید . داتکان ډیر درون داو زغردو .

فکر یې وکړ کب سیم په بیسوو هی . زه بو هیدم چه اخر به همدا سې کوی .
غریب ګوتی له چاره نه لري . اوس به نوخیر کړی خوزه غواړم چه دی دخیز په
ځای خپله دوره ووهی خودا خیز و به ده ته ضروري دی چه لبر ه هوا واخلی
خو به هر خیزد چنګک خوله خلاصیږی او و بر بیرم چه یو واري له حوله ونه و ځي

و یې و یل « کبه خیرمه و هه ـ خیز مه و هه . »

کب څو واري سیم و واهه او هر و اري چه سر خوراوه را یه سړ ی مزی لږ
ور غزا وه .

« باید کب پرې نږدم چه ځان ډیر ژوبل کړی . ماته درد فرق نه کوی خو کب دی
ژوبل شی ځان نشي ساتلی لیوني کیږ ی . »

پس له څو شیبو کب غلی شوا و بوړ یې سیم نه واهه او ورو ، ورو یې په دوري
پیبه و کړه . زاړه سړي اوس مزی په اسانه کشکوده خو بیا ور باندې ضعف راغی .

په کېنې لیږې یې دسید او نه واخیستې او پخپل سرېي نوېي کړې. نورې او به یې په
سر تېرې کړې او په لاس یې خپل ورمیږ کرار کرار وموښه

وېي ویل «دره تکړه یم او کب به را ورولې. ګوندې ځان ورته کلک کړم
زړه سړیه واردې حطاشي هیڅ یې مه دربانا دوه..»

لیندی نه نژدې یې ګوته وهله او یوه شیبه یې مری بیرته په او ز وتېر کړ وکړ یې
وکړه به اوس کرار کښینم پریږده چه دی دورې وهي ښایي نور وستړی درېږم
او په راښکلو به یې ښا پیل وکړم.

زاړه سړی ته نه ښکارېده چه کب دوري کوي او دی له موقع څخه استفاده نه کوي
او کب بېرته کاږي خو چه دی دحپلې اوږې له مرې پوه شو چه کب دمخ کو خواته روان دی
نو یا ځېدا او مرې یې کرار کرار راښکله مری دده د هرکش سره په اسانۍ
مخ کو ته نووت

فکر یې وکړ هیڅکله ره د ومره نوم سړی شوی. او س نو تجاري بارو نه الوځي.
شه دي کب نه په اسانه ساحل ته ورسوم. تجاري بادونه شه ملګري دي

وېي ویل «دال واري چه کب ددوري لیږي نو څه وهي زه نه ښالبره دمه وکړم.
په دویمي یادريمي دوري کښي به یې لاندې نا سم.

مرړینه حوالی یې دسر شاته بېرته وهلی وه او ورو ورو مخ کو ته تیت شوا و لیندی ته یې
تکیه وکړه.

فکر یې وکړ نو هېڅ کله که چه بېرته را کرځي ګوري دی کړم دسید او نه
را جنګي شوې وی، خودا یوائي دوه ګلالی نسیم او و او زاړه سړی ته دا نسیم
ساحل ته دا ود بار ته رورو.

وېي ویل «دمخ کو مخ ته خوب عرب خواته و اړوم نو رو نور کېږم. په سید کښي سړی
لا زنه غلطوی..»

په دریمې دورې کښي زاړه سړی کب ولید. لکه تور سیوري دمخ کو له لاندې

تیرشو او ښایسته‌ ېې بـروحت تېر ېده اوبسې تیر یده . زوړ سړی بی اوږ دوالی ته
هلك پك پا ی شو .

وېی ویل « نه هیڅ امکان نه لري چه دومره دې او ږ د وی ».

خو کب هماغومره اوږداولوی واو کوم وخت چه‌ددوړي په‌اخر کښې شل کره
له‌ما کولرې داو بوسرته راوخوت راړه سړی ېی لکېدداو بود پاسه ولیده چه‌له‌اوی
لاره نه‌هم حکه‌وه اولو ګو رنګ‌ېی لاره . کب داوبوسر نه نژدی لامو وهله او
راړه سړی بی پلمی نېی اوحیا پټې لیدلی . محکینی پلمی نېی بی په‌اوبوغوړیدلی‌وی

راړه سړی بې سر ګی هم ولیدی اودوه راړه کماڼ ېی ګر چاپیر تاو یدل .
کله نه‌ېی څاوبه لیری کړل او کله نه ېی ده‌پسی څاوبه وښلول کله به‌ېی کرار
کرار دده په‌سیوری کښې لاس‌وهله هر کله دری‌ووقته‌اوږدواو دلاسو په‌وخت کښی
نه ېی څاوبه لکه عینی داسی اوږ ده کړل زوړ سړی په حولو کښی دوبو،
خو نه دلمرله‌لاسه ملکه هرواري نه چه کب دماکو حوانه راته ده نه‌مری کش کړ
زوړ سړی بوهېده چه په دوودورو کښی نه‌دنېزې اودشلګی وخت‌راشی . فکر ېی وکړ
خو نا ندسبه‌ېی نژدې را ولم اودېر نژدی ژ دې شلګی ی باید په سرابر نه کړم
نایدرړه ېې مـوحـه کړم

وېی ویل « زړه سړیه‌پام کوه چه څان‌نای ملی او تکړه او سی »
په‌ملی‌دوري کښی د کب‌شاله‌او بورا ووهله حوله‌ما کوابر لیری‌و په‌ملی دوري کښی
بیاهم لیری‌و، خود اوارله اوبو حکک راوتای واوروړ سړی بوهیده چه کب‌نژی
لیز بورهم راکاږی دما کواړح ته‌نه‌ېی راوانی

لادو خته‌ېی حپل شلګی بیار کړی و . دشلګی بوسر په بوه نېری بورې تړلی و
او دېږی کړی دلیندې لاندې په تو کړی کښی پر تـه‌ و ه د کړی اخر سر
په‌ما کو بورې کلك غوټه شوی و .

کب په‌حپلې دورې کی دما کو حواته روان و شیره بی لاګلالید ښکار یده
اوپه کرار کراری لاموو هله‌او بوانحی پلمه لکید ښوریده راړه سړی مری به

ټول زور کش کړ چه رانژدې کړي . کب څه را نژدې شو، خو بیا یې مخ واړاوه
او بله دوره یې شروع کړه .

زاړه سړي ویل «خو مې سپوراته احرمي و سپور اوه»

بیا یې په وجود ضعف راغی خو په ټول طاقت یې په مزي زور اچولی و مکر یې وکړ
وخوږمي سپوراوه ګوتې یې په دې واړې لاندې باسم لاسونو راکاږي پس ځان په
ټینګ کړي رما د پاره ځان په ټکړه وساتي سره ځان ټکړه ساته تا خو هیڅکله
ماسره ناخوالې نده کړې دا بلا به یې راولم

خو چه دا بلایې د کب په را ګرځیدو خپل ټول زور په مري و اچاوه کب بیا مخ
تیرې واړاوه او بله دوره یې شروع کړه

وې ویل «کېږه اخر خو نه مر ګک ته اړشي زمامر ګک ته دې هم ملا تړلې ده»
مګر یې وکړ په دې صورت به دې لو یې په هیڅ شي خو نه شي . خوله یې ډېره وچه وه
او عبریدی نه شو، خو او بو ته هم ور کوریدی نه شو چه خوله لمده کړي

مکر یې وکړ باید داوارې نژدې راولم . خدای زده چه د نورو دورو طاقت یې ولرم .
ځانته یې وویل «زړه سړیه ته ډېر طاقت لرې . ته د قیامته پورې طاقت لرې»

په بلې دورې کښې یې کب نژدې لاندې ایستلی و، خو بیرته یې ځان سم کړاو
کرار کرار یې بله دوره پیل کړه

مګر یې وکړ کیه نه لګه چه ماوږ یې خو حق لرې وروره تر تامې په درست عمر کې
مینا یسنه کلا ای او غټ شي نه دی لیدلی، سو راځه مړ مې کړه خدای کړه به مې
چرت خراب وي چه څوک مړه کوي مکر یې وکړ زړه سړیه
لکه چه سر دې ګرځي . اپلتي وایي . ماغزه ټکړه ساته او د میړه په شان یې زغمه .
یا د کب په شان . په داسې عزم چه یې به ډېره سختي او ږېده .

وئې ویل «سره ټکړه شه . ټکړه شه .»

دوې نورې دورې هم تیرې شوې .

فکر یې وکړ زه نه پوهیږم . دوه ځلې نژدې و چه ان په ما کو کښې ننوځي .

زه نه پوهېږم . چه څرنګه ځلېدی حیوان واري نه هم زور واچوم او وار یې به مزی
دومره زور واچاوه چه نږدې ودی پخپله ورسره پریوځی ، خو پام یې شو چه مزی
د کب سره راځی خو کب بیرته ځان سم کړ او په کراره یې په ملې دوري پیل وکړ .
پلمه لګېدلی په هوا کښی رپېده . زاړه سړی ځان ته ډاډ ورکړ چه بو تل وار ته یې
راکاږم . لاس یې سست سست کېدل او دسترګو تر مخ یې را نه تکی ځلېدل .
بیا یې مزی کش کړ خو کب لکه پخوا په کراره ګېرچاپېر لاړ . نو په فکر کښی ډوب شو
او ورو ، ورو ما کو ته تېښته ته ترڅو چه پر ته نو ته نږدې شو بیا یې ځان سره وویل:

« پو تل واري یې را کاږم . »

خپل ټول همه زور یې چه ور پاتې و په مزی واچاوه او ټوله پخوا نیمه اراده یې
سره غونډه کړه او مزی یې پخپل ټول موجودیت را ښکه . کب ورو ، ورو
د ما کو خوا ته را غی ، او د ما کو اړخ ته ورسید . دومره نږدې شو چه د اړخ یې
نږدې د ما کو په دېوال له لګېدی او د ما کو څخه ورو ، ورو تېرېده . په ملا اوږد
وجود یې لکه سپین سوچه زر داسی و . د اړخ وچنیا لیکی یې نیمایی په اوبو کښی
پټې وې .

زاړه سړی مری له لاسه وغورځاوه او پښه یې ور باندې کېښوده . شلګی یې
په لاسو له سره جګه کړه او په ټول قوت یې د کب په اړخ د هغو ترشا و ما ننه .
د کب د اړخ یې د سیادم د وده هو مره جګه وی . زاړه سړی د شلګی د سر او سپینه
ولیده چه په کب ننوته . بیا یې ټول زور یې په شلګی تکیه وکړه او تر یې هم
په کب کښی ننه ایست . ځان یې نو ر هم شلګی ته تکیه کړ .
کب را ژوندی شو او پخپل ټول اوږد او پر پیر وجود یې له اوبو پاس خیز کړه .
دومره جګ یې خیز کړه چه له ماکو او زاړه سړی دوا پر و نه جګ شو . بیا
نو په داسی شرپهار بیرته اوبو ته ولوید چه اوبه یې ان په ما کو کښی د زاړه سړی
په ټول وجود و پاشلې .
په زاړه سړی د ضعف حالت را غلی و او سترګو یې هم ښه لید نه کا وه ،

خو په همدې حالت کښې یې د شلګۍ مزی صاف کړ او پرې یې نښو د چه د کب د تنګ
سره کرار کرار وغږېږي.

کوم وخت چه یې سترګو لید وکړ نو یې کتل چه کب په شا په اوبو پروت دی
او سپینه خیټه یې پاس ده. د شلګۍ ډانګ یې په اړخ کښې نیغ ولاړ و او د سیند
اوبه د کب په وینو رنګینې کیدې. او مړې داوبو ښی په شنو اوبو کښې تورې
ښکاریدې. ورو ورو سره بو لکه د آسمان وریځې خورې شوې. ښځیله کب د سپینو
زرو په رنګ بې حرکته د سیند د څپو په سر روان و.

زاړه سړی په هغو مره لید چه ورته پاتی و د کب خوا ته کتل بیا یې د شلګۍ
مزی له لیدې تاو کړ او سر یې په دواړو لاسو کیښود.

« خدایه! زما ماغزه ویښ کړه زه یو ستړی ستومانه بوډا یم، خو کب مې ووژه.
اوس مې بو د کار سخته برخه پیل کیږي.

فکر یې وکړ اوس و باید پرې ورته تیار کړم چه د ماکو څنګ ته یې راولم.
که هلك را سره وای او دواړو ماکو ته خیژولی وای بیا هم به ماکو کښې نه ځاییده.
هر شي باید ورته له اوله بیا کړم بیا یې راکاږم او ماکو پوري یې وتړم. بیا به بو د بادوان
